سمسور ودان

۲۰۲۴/۰۸/۰۱

# سوالګرۍ ته

سوالګرې نجلۍ
تر کوره مې
ستا د سوال چيغې
او سپور مخ
وژلی شي

سوالګرې نجلۍ
مخ ته دې ګورم
څه نه درکوم
او خالي لاسونه دې
څنډ وهم

سوالګرې نجلۍ
غواړم بې حسه شم
او ظالمې نړۍ سره
سيالي وکړم
ځکه زه انساني روبات يم

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ